# په مارجې ولسوالۍ کې د غنمو د تولید اقتصادي تحلیل

پوهندوی ډاکټر علي احمد*[1]، حمید الله هدایت[2]، پوهنیار بریالی رفیع[3]

[1]کرنیز اقتصاد او ترویج څانګه، کرهنې پوهنځی، هلمند پوهنتون

[2] اداره او تشبثات څانګې محصل، اقتصاد پوهنځی، بُست پوهنتون

[3]د بڼوالۍ څانګه، کرهنې پوهنځی، هلمند پوهنتون

د مسؤل ایمیل آدرس : aada.aliahmad@gmail.com

## لنډیز

دا څېړنه د هلمند په ولایت کې د غنمو د تولید اقتصادي تحلیل کال (۱۳۹۹-۱۴۰۰ ) سرلیك لاندې په ۱۴۰۱ هجري شمسي کال کې ترسره کړه. د څېړنې عمده موخې د غنمو د تولید لګښت معلومول، مجموعي او خالص عواید تحلیل کول، د غنمو د مارکیټینګ چینلونه موندل او د غنمو په تولید کې خنډونه او حل لارې وړاندې کول. د څېړنې لپاره مو د هلمند ولایت مارجه ولسوالۍ په قصدي ډول وټاکل، (۶۰) تنه څواب ورکوونکي مو په تصادفي ډول وټاکل او شپږ کلي مو په قصدي ډول انتخاب کړي وه، چې د یادو څواب ورکونکو(کروندګرو) څخه د مهالوبش او پوښتنپاڼو له طریقه لومړني معلومات ترلاسه کړو. د دوی کروندې مو په درېو کټګوریو وېشلې وې (کوچنی ۱-۳جریبه )، (میانه ۳-۵جریبه) او (لویه ۵-پورته جریبه)کروندې چې د هرې کروندې لپاره مو (۲۰) کسان انتخاب کړي وه. چې د څېړنې په نتیجه کې مو دا وموندل، چې د کوچنی، میانه او لویې کروندې د تولید لګښت په ترتیب سره (۴۰۷۲۱)، (۷۷۰۲۳) او (۱۵۱۲۸۰) افغانۍ په اوسط ډول دی. د کوچنی، میانه او لویې کروندې ټوله عواید په ترتیب سره (۶۲۸۳۱)، (۱۲۹۳۴۸) او (۳۰۲۷۸۳) افغانۍ په اوسط ډول په لاس راغلی دی. د کوچنی، میانه او لویې کروندې خالص عواید په ترتیب سره (۲۲۱۱۰)، (۵۲۳۲۵) او (۱۵۱۵۰۰) افغانۍ په اوسط ډول دی. او د مارکیټینګ دوه چینلونه مو و موندل (تولید کوونکي - عمده فروش - مصرف کوونکي) او (تولید کوونکي عمده فروش - پرچون فروش - مصرف کوونکي). د تولید او مارکیټینګ ستونزې عبارت دي د اوبو کموالی، د اصلاح سوي تخمونو نشتوالی، مرضونه، افتونه،د منظم مارکیت نشتوالی،د مناسب ساتنځایونو نشتوالی،د پروسیس نشتوالی او په مارکیټ کې د ګدام نشتوالی.

**کلیدي کلیمې**: غنم، تولید لګښت، مجموعي عواید، خالص عواید او ستونزې.

## سریزه

غنم (Triticum aestivum) د هرهیواد مهم خوراکي غلې او خوراکي سرچینې دي چې د ټول خوراکي توکو د پروټین لویه برخه برابروي. دا د نړۍ په رژیم کې د نورو حبوباتي فصلونو په پرتله ډیر کالوري او پروټینونو کې مرسته کوي. د غنمو اوړه د چپاتو، ډوډۍ، پاستا، بیسکوټونو، ډلونو او سمولینا او نورو په جوړولو کې کارول کیږي، غنم د ایتانول، بیر، د غنمو پر بنسټ د کاسمیټکس، پولیمر، چپکونکو، رالونو او نورو لپاره د خامو موادو په جوړولو کې هم کارول کیږي. د غذايي فایبر سرچینه د هاضمې اختلالاتو، د غاښونو اختلالاتو، د پوستکي ناروغیو او د غاښونو درد او داسې نورو په مخنیوي او درملنه کې مرسته کوي. د غنمو غذايي ارزښت (۱.۱ جدول) د کاربوهایدریټ، پروټین، غوړ، ویټامینونو منرالونه او فایبر او نور په شمول د لوی شمیر اجزاو د ځانګړي ترکیب څخه رامینځته کیږي. غنم د ژمي فصل دی او په ټول هند کې د سمندر له سطحې څخه تر 3500 څخه تر 4000 مترو پورې په همالیا کې کرل کیږي. د کرنې او ودې د دورې لپاره مناسبه تودوخه د $20^0$ C څخه تر $25^0$ C پورې ده. دا روښانه لمر ته اړتیا لري د بلوغ په وخت کې دا په ټولو خاورو کې کرل کیدای سي چې pH یې له 5 څخه تر 7.5 پورې وي. د نسبي رطوبت 70-60 سلنې ددې نبات د ودې په موده کې مناسب دی. عموماً، د غنمو ډډ (تنه) د 80 څخه تر 120 سانتي مترو پورې سیند، سلنډر، نرم او اوږدوالی لري یې د ورو شمېر رسیږي. د غنمو دانه د ډیر پتلي پیري کارپ طبقې پواسطه پوښل کیږي چې دري برخې لري لکه بران، اندوسپرم او جراثیم (Bakhru 1996).

1 جدول: د غنمو غذايي ارزښت (۱۰۰ ګرامه)

| S. N | Nutrient | Amount |
|---|---|---|
| ۱ | Protein (%) | ۱۲,۱ |
| ۲ | Fat (%) | ۱,۷ |
| ۳ | Minerals (%) | ۲,۷ |
| ٤ | Fibre (%) | ۱,۹ |
| ٥ | Carbohydrates (%) | ٦۹,٤ |
| ٦ | Calcium | ٤۸ mg |
| ۷ | Phosphorus | ۳٥٥ mg |
| ۸ | Iron | ۱۱,٥٠ mg |
| ۹ | Calorific value | ۳٤۱ |
| ۱۰ | Vitamin B complex | Small amount |

Source: By H.K. Bakhru

غنم د نړۍ په شاوخوا ۱۲۰ هیوادونو کې کرل کیږي. د غنمو لوی تولیدونکي هیوادونه چین، هند، امریکا، روسیه، کاناډا او استرالیا دي. چین د غنمو ترټولو لوی تولید کونکي هیواد دی، چې په 2009 کال کې یې 115.10 ملیون ټنه کلنی تولید درلود او وروسته هند د 80.80 ملیون ټنو تولید سره. د نړۍ د غنمو په تولیزه توګه (۶۸۵.۸۰ میلیونه ټنه) تولید کې ۱۶.۷۹ سلنه برخه د چین او وریپسې هند (۱۱.۷۸ سلنه) جوړوي. په نړۍ کې د غنمو په عمده تولیدونکو هیوادونو کې د غنمو تولید په لمړي شکل کې ښودل سوی دی. (FAO, 2022).




۱ شکل: د غنمو تولید په میلیون ټن کال

## مواد او کړنلاره

### الف. د څېړنې ځای او وخت

ادا څېړنه مو د هلمند په ولایت مارجې ولسوالی کې د غنمو د تولید اقتصادي تحلیل تر سرلیک لاندې په ۱۴۰۱ هجري شمسي کال کې ترسره کړې ده.

### ب. د څېړنې ډیزاین

د څېړنې لپاره مو هلمند ولایت او مارجه ولسوالی په قصدي ډول وټاکل. په دې ولسوالی کې (د اخکزو بلاک، تاجکانو بلاک، ون سي بلاک، وردګانو بلاک، کاکړانو بلاک او تو سي بلاک) په تصادفي ډول انتخاب کړل او همدا راز د څېړنې لپاره مې په دغو ساحو کې (۶۰) کسان (ځواب ورکوونکي) په تصادفي ډول انتخاب کړل تر څو له هغوي څخه د دوی د ځمکو اړوند لکه لګښت، حاصل، عواید، ستونزې او داسې نورو په اړه معلومات راټول او تجزیه کړو او د ځواب ورکوونکو د غنمو کروندې مو په دروګټګوریو وویشلې، چې په لاندې (جدول ) کې ښودل سوي دي:

۲ جدول: د غنمو د کروندو کټګوري

| شماره | دکروندی دول (جریب) | | |
|---|---|---|---|
| | کوچنۍ کروندی | میانه کروندی | لوی کروندی |
| ۱ | ۱ - ۳ | ۳ - ۵ | د ۵ څخه لوړ |

منبع: د ساحې څخه راټول سوي معلومات (۱۳۹۹ کال)

## ج. مواد

په څېړنه کې مو د لومړني او دوهمي معلومات څخه کار اخیستی دی. لومړني معلومات د هلمند ولایت مارجې ولسوالی د کروندګرو څخه د پوښتنپاڼو او مرکو په مرسته راټول کړي دي او دوهمي معلومات د ملي او نړیوالو ژورنالو، معتبرو ډاټا بیسو او کتابونو څخه راټول کړي دي.

## نتیجه او مناقشه

### ۱. د څواب ورکوونکو عمومي معلومات:

په (۳ جدول) کې لیدل کیږي چې توټل ٦۰ کروندګرو څخه معلومات راټول سوي دي، چې د عمر اوسط یې ۳۳،٦۸ دی، کښته نقطه یې ۱۸ او لوړه نقطه یې ٦۳ ده.

۳ جدول: د څواب ورکوونکو عمر

منبع: د ساحې څخه راټول سوي معلومات (۱۳۹۹ کال)

(۲ شکل) د کروندګرو د زده کړي کچې راښيي، هغه کسان چې تعلیم نه لري (٪ ۳٦،٦۷) فیصده دي او هغه کسانو چې لومړنۍ زده کړي لري (٪ ۳۰) دي، او هغه کسانو چې د دوولسم څخه فارغه دي (٪ ۲٦،٦۷) دي. هغه کسان چې زده کړي یې تر لیسانس پوري کړي (٪ ٦،٦۷) دي.

۲شکل: د کروندګرو د زده کړی کچه




منبع: د ساحی څخه راټول سوی معلومات ۱۳۹۹ ه ل

### . د غنمو د تولید لګښت:

۲.۱. د کوچني کروندو د تولید لګښت په (۴ جدول) کي ښودل سوی دی.

۴ جدول: د کوچنی کروندی لګښت (افغانی)

| | | Irrigation | URA and DAP | Chemical | Seed | Famer | Harvest and Tresh | Mola share | Depreciation | land preparation | Animal fertilizer |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| N | Valid | 20 | 20 | 20 | 20 | 20 | 20 | 20 | 20 | 20 | 20 |
| | Missing | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| Mean | | 6077.00 | 9050.00 | 4175.00 | 2177.50 | 497.00 | 3562.50 | 4852.00 | 1267.50 | 4587.50 | 4475.00 |
| Minimum | | 3000 | 5000 | 1500 | 0 | 0 | 1500 | 1000 | 0 | 2000 | 0 |
| Maximum | | 30000 | 15000 | 17500 | 3500 | 9940 | 5600 | 7700 | 7500 | 6500 | 12500 |
| Sum | | 121540 | 181000 | 83500 | 43550 | 9940 | 71250 | 97040 | 25350 | 91750 | 89500 |
| Percentiles | 25 | 4362.50 | 6000.00 | 2500.00 | 1818.75 | .00 | 3225.00 | 3535.00 | 462.50 | 4000.00 | 1225.00 |
| | 50 | 4865.00 | 10000.00 | 3250.00 | 2287.50 | .00 | 3500.00 | 4760.00 | 750.00 | 4500.00 | 4000.00 |
| | 75 | 5227.50 | 11000.00 | 4875.00 | 2900.00 | .00 | 4075.00 | 6825.00 | 1200.00 | 5750.00 | 8625.00 |

منبع: د ساحې څخه راټول سوي معلومات (۱۳۹۹ کال)

. د میانه کروندو د تولید لګښت په (۵ جدول) کي ښودل سوی دی.

| Age | | |
|---|---|---|
| N | Valid | 60 |
| | Missing | 0 |
| Mean | | 33.68 |
| Mode | | 23 |
| Minimum | | 18 |
| Maximum | | 63 |

۵ جدول: د میانه کروندی لګښت (افغانی)

| | | Irrigation | URA and DAP | Chemical | Seed | Farmer | Harvest and Tresh | Mola share | Depreciation | land preparation | Animal fertilizer |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| N | Valid | 20 | 20 | 20 | 20 | 20 | 20 | 20 | 20 | 20 | 20 |
| | Missing | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| Mean | | 11130.50 | 24250.00 | 5400.00 | 3635.25 | 3500.00 | 8072.00 | 8736.00 | 1495.00 | 6780.00 | 4025.00 |
| Minimum | | 2610 | 12000 | 2000 | 0 | 0 | 1600 | 3220 | 0 | 3000 | 0 |
| Maximum | | 25000 | 28500 | 10000 | 5500 | 18200 | 16100 | 10500 | 6000 | 8500 | 15000 |
| Sum | | 222610 | 485000 | 108000 | 72705 | 70000 | 161440 | 174720 | 29900 | 135600 | 80500 |
| Percentiles | 25 | 7612.50 | 23437.50 | 3000.00 | 3147.50 | .00 | 4625.00 | 8400.00 | 575.00 | 5825.00 | .00 |
| | 50 | 10800.00 | 25000.00 | 5750.00 | 3875.00 | .00 | 6450.00 | 9100.00 | 1250.00 | 7250.00 | 3250.00 |
| | 75 | 13037.50 | 26000.00 | 7375.00 | 4468.75 | 7350.00 | 11330.00 | 10325.00 | 1775.00 | 7500.00 | 6875.00 |

منبع: د ساحې څخه راټول سوي معلومات (۱۳۹۹ کال)

۲.۳. د لویو کروندو د تولید لګښت په (٦ جدول) کي ښودل سوی دی.

۶ جدول: دلوپې کروندې لګښت (افغانۍ)

| | | Irrigation | URA and DAP | Chemical | Seed | Farmer | Harvest and Tresh | Mola share | Depreciation | land preparation | Animal fertilizer |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| N | Valid | 20 | 20 | 20 | 20 | 20 | 20 | 20 | 20 | 20 | 20 |
| | Missing | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| Mean | | 14897.25 | 37705.00 | 7912.50 | 9157.50 | 18431.00 | 12556.00 | 19215.00 | 4745.00 | 14940.00 | 11725.00 |
| Minimum | | 3915 | 10000 | 2500 | 1500 | 0 | 1050 | 5600 | 0 | 4000 | 0 |
| Maximum | | 37500 | 65000 | 13000 | 26250 | 81620 | 22400 | 49000 | 23000 | 37500 | 40000 |
| Sum | | 297945 | 754100 | 158250 | 183150 | 368620 | 251120 | 384300 | 94900 | 298800 | 234500 |
| Percentiles | 25 | 12637.50 | 28250.00 | 6750.00 | 5187.50 | .00 | 8750.00 | 12075.00 | 2000.00 | 9000.00 | 3625.00 |
| | 50 | 14605.00 | 37500.00 | 7875.00 | 8125.00 | 7000.00 | 13000.00 | 15400.00 | 3000.00 | 9750.00 | 10000.00 |
| | 75 | 15657.50 | 46062.50 | 9750.00 | 12875.00 | 26250.00 | 16875.00 | 26250.00 | 4750.00 | 21750.00 | 20000.00 |

**منبع: د ساحې څخه راټول سوي معلومات (۱۳۹۹ کال)**

## ۳. د غنمو د تولید مجموعي او خالص عواید:

۳.۱ د غنمو د کوچني کروندو مجموعي او خالص عوايد په (۷ جدول) کي ښودل سوي دي.

۷ جدول: په کوچنی کروندی کی مجموعی او خالص عواید (افغانی)

| | | total revenue of wheat | per jerib revenue of wheat | net revenue | net revenue per gerib |
|---|---|---|---|---|---|
| N | Valid | 20 | 20 | 20 | 20 |
| | Missing | 0 | 0 | 0 | 0 |
| Mean | | 62831.00 | 19006.25 | 22110.00 | 9732.00 |
| Minimum | | 16800 | 9100 | 5000 | 3250 |
| Maximum | | 70000 | 24500 | 56000 | 34500 |
| Sum | | 958440 | 380125 | 442200 | 194640 |
| Percentiles | 25 | 38430.00 | 14000.00 | 7125.00 | 5150.00 |
| | 50 | 44100.00 | 21000.00 | 18000.00 | 7915.00 |
| | 75 | 68250.00 | 23330.00 | 29500.00 | 12497.50 |

**منبع: د ساحې څخه راټول سوي معلومات (۱۳۹۹ کال)**

۳.۲ د غنمو د میانه کروندو مجموعي او خالص عوايد په (۸ جدول) کي ښودل سوي دي.

۸ جدول: په میانه کروندی کی د مجموعی او خالص عواید (افغانی)

| | | total revenue of wheat | per jerib revenue of wheat | net revenue | net revenue per gerib |
|---|---|---|---|---|---|
| N | Valid | 20 | 20 | 20 | 20 |
| | Missing | 0 | 0 | 0 | 0 |
| Mean | | 129348.00 | 20322.50 | 52325.00 | 12402.50 |
| Minimum | | 65800 | 12000 | 20000 | 4000 |
| Maximum | | 105000 | 28000 | 77000 | 20000 |
| Sum | | 1850800 | 406450 | 1046500 | 248050 |
| Percentiles | 25 | 84000.00 | 18350.00 | 32000.00 | 7187.50 |
| | 50 | 94500.00 | 21000.00 | 58000.00 | 13500.00 |
| | 75 | 103250.00 | 22312.50 | 73750.00 | 18250.00 |

**منبع: د ساحې څخه راټول سوي معلومات (۱۳۹۹ کال)**

۳.۳ د غنمو د لويو کروندو مجموعي او خالص عوايد په (۹ جدول) کي ښودل سوي دي.

۹ جدول: په لویی کروندی کی مجموعی او خالص عواید (افغانی)

| | | total revenue of wheat | per jerib revenue of wheat | net revenue | net revenue per gerib |
|---|---|---|---|---|---|
| N | Valid | 20 | 20 | 20 | 20 |
| | Missing | 0 | 0 | 0 | 0 |
| Mean | | 302783.00 | 21953.35 | 151500.00 | 9787.00 |
| Minimum | | 7000 | 10180 | 21000 | 1070 |
| Maximum | | 350000 | 46660 | 1400000 | 18660 |
| Sum | | 3213000 | 439067 | 3030000 | 195740 |
| Percentiles | 25 | 78750.00 | 17500.00 | 53750.00 | 4100.00 |
| | 50 | 140000.00 | 18875.00 | 98250.00 | 9772.50 |
| | 75 | 206500.00 | 24582.50 | 112000.00 | 13577.50 |

**منبع: د ساحې څخه راټول سوي معلومات (۱۳۹۹ کال)**

## ۴. د غنمو د مارکيټينګ چينلونه:

د څېړني په نتيجه کي د مارکيټنګ دوه چينلونه         و موندل سول، چي په لاندي ډول سره دي.

**Producer ➡ Wholesaler ➡ Consumer**

**Producer ➡ Wholesaler ➡ Retailer ➡ Consumer**

په لومړي چينل کي توليد کوونکي خپل محصولات پر عمده فروش پلوري او عمده فروشان يې پر مصرف کوونکو پلوري، په ياده ساحه کي ددغه چينل کاروونکي (۲۵) کسان وه چي ۴۱،۶۷ (۴۱،۶۷) سلنه کيږی (۳ شکل). په دوهم چينل کي توليد کوونکي خپل محصولات پر عمده فروشانو پلوري او عمده فروشان دغه محضولات پر پرچون فروشانو پلوري او پرچون فروشان يې پر مصرف کوونکو پلوري، په ياده ساحه کي دغه چينل کاروونکي (۳۵) کسان وه، چي (۵۸،۳۳) سلنه جوړوي.



۳ شکل: د مارکیتینګ چینلونه.

**منبع: د ساحې څخه راټول سوي معلومات (۱۳۹۹ کال)**

۵. د غنمو په توليد او مارکيټنګ کي ستونزي:

۵.۱. د غنمو په تولید کې ستونزې په (۱۰ جدول) کې ښودل سوي

| شماره | د ستونزی ډول | د ځواب ورکوونکو شمیر | درجه |
|---|---|---|---|
| ۱ | د اوبو کموالی | ٦۰ (۱۰۰٪) | لومړی |
| ۲ | اصلاح سوو تخمونو نشتوالی | ۵۴ (۹۰٪) | دوهمه |
| ۳ | مرضونه | ۴۵ (۷۵٪) | دریمه |
| ۴ | آفتونه | ۳۹ (٦۵٪) | څلورمه |

**۱۰ جدول: د غنمو په تولید کې ستونزې**

**منبع: د ساحې څخه راټول سوي معلومات (۱۳۹۹ کال)**

۵.. د غنمو په مارکیټینګ کې ستونزې په (۱۱ جدول ) کې ښودل سوي دي.

| شماره | د ستونزی ډول | د ځواب ورکوونکو شمیر | درجه |
|---|---|---|---|
| ۱ | مناسب ساتنځایونه | ٦۰ (۱۰۰٪) | لومړی |
| ۲ | پروسیس | ۵۹ (۹۸،۳٪) | دوهمه |
| ۳ | منظم مارکیټ | ۵۸ (۹٦،٦٪) | دریمه |
| ۴ | ددولت لخوا د غنمو محصولاتو لپاره د نرخ نه تعین کول | ۵۷ (۹۵٪) | څلورمه |
| ۵ | ارزانه قیمت | ۵۴ (۹۰٪) | پنځمه |
| ٦ | خرابه لار | ۴۲ (۷۰٪) | شپږمه |
| ۷ | په مارکیټ کې د ګدام نشتون | ۳٦ (٦۰٪) | اوومه |

**منبع ۱۱ جدول: د غنمو په مارکیټینګ کې ستونزې**

## پایله

۱: د څېړني لپاره مو د هلمند ولایت شمال لویدیځه ولسوالي (مارجه) په قصدي ډول ټاکلې ده (٦۰) تنه ځواب ورکوونکي مو په تصادفي ډول وټاکل او د دوی کروندې مو په دریو کټیګوریو و ویشلې (کوچنۍ ۱-۳ جریبه)، (میانه ۳-۵ جریبه) او (لویه ۵ – څخه پورته) د هري کروندې لپاره مو (۲۰) ځواب ورکوونکي (کروندګر) انتخاب کړل.

۲: د څېړني په نتیجه کې مو دا وموندل چې د کوچنۍ، میانه او لویو کروندو د تولید لګښت په ترتیب سره (۴۰۷۲۱)، (۷۷۰۲۳) او (۱۵۱۲۸۰) افغانۍ په اوسط ډول دی.

۳: د څېړني په نتیجه کې مو دا مشاهده کړل چې د کوچنۍ، میانه او لویو کروندو مجموعي عواید په ترتیب سره (٦۲۸۳۱)، (۱۲۹۳۴۸) او (۳۰۲۷۸۳) افغانۍ په اوسط ډول سره دي.

۴: د څېړني په نتیجه کې مو دا ترلاسه کړل چې د کوچنۍ، میانه او لویو کروندو خالص عواید په ترتیب سره (۲۲۱۱۰)، (۵۲۳۲۵) او (۱۵۱۵۰۰) افغانۍ په اوسط ډول په لاس راغلي دي.

۵: د څېړني په ساحه کې مو دوه چینلونه و موندل. (تولید کوونکي، عمده فروش، مصرف کوونکي)

او (تولید کوونکي، عمده فروش، پرچون فروش، مصرف کوونکي).

٦: د غنمو په تولید کې عمده ستونزې عبارت دي د اوبو کموالی (۱۰۰٪)،د اصلاح سوي تخمونو نشتوالی(۹۰٪)، مرضونه (۷۵٪) او آفتونه لکه خزندې(٦۵٪).

۷: د مارکیټینګ عمده ستونزې عبارت دي له (مناسب ساتنځایونو نشتوالی(۱۰۰٪)، پروسیس نشتوالی(۹۸،۳٪)، منظم مارکیټ نشتوالی(۹٦،٦٪)، د دولت لخوا د غنمو محصولاتو لپاره د نرخ نه تعین کول(۹۵٪)، ارزانه قیمت(۹۰٪)، خرابه لار(۷۰٪) او په مارکیټ کې د ګدام نشتوالی(٦۰٪).

## اخځليکونه


Annual Agriculture Statistics (2010). Commissioner of Land Records and Settlements, Gwalior, Madhya Pradesh.

ahmad et al. (2021). profitability of Wheat production in Nawa District of Helmand province, Afghanistan. *International Journal of Innovative Science and Research Technology, 6*(6), 1249-1252.

Ahmad et al. (2017). Integrated farming system for Helmand province, Afghanistan. *International Journal of Advanced Education and Research, 2*(5), 62-67.

Banafar, K.N.S. (2005). Economics of Wheat Cultivation in Sehore District of Madhya Pradesh. *Agricultural Marketing, 48*(3),18-22.

Bakhru,H.K. (service, 2021/22) (1996). Nutritional Value of Wheat. *international Journal of Advaced education research*.

Dwivedi, Sudhakar and N.P. Singh (2000). A Study of Resource Use Efficiency of Wheat Crop in Agra District. *Journal of Agriculture and Scientific Research, 36*(1/2): 14-18.

food and agriculture organization of united nation. (2022). Global Information and Early Warning System Afghanistan: food and agriculture organization

Goel Veena (2000). A Study of Market Arrivals and Procurement Pattern of Wheat by Public and Private Agencies in Punjab. *Indian Journal of Regional Science, 32*(2):94-102.

Jain, K.K. (1993). An Appraisal of Costs and Prices on Different Farms in Punjab. Agricultural Situations in India, 47 (10):763-773.

Kumar, Anuj and Randhir Singh (2003). Wheat Production Constraints in Jharkhand. Agricultural Extension Review, pp: 26-30.

Mishra, G.P., F. Uddin and B.K. Bajpai (1988). Wheat Marketing in Eastern Uttar Pradesh: Evidences and Implications. Agricultural Situation in India, 42(11):975-980.

Pandey, R.K. (2001). Yield Gap of Wheat and Constraints in Adoption of New Technology by the Farmers in Plateau Region of Bihar. *The Bihar Journal of Agricultural Marketing. 9*(2), 155-162.

Sagwal, R.C. and R.S. Malik (2002). Constraints Oriented Strategy for Resources Management in Cotton-Wheat Cropping System. Indian Economic Panorama, 11(4):24-27.

Saxena, H.K. and S.C. Mathur (1980). Surplus of Wheat at Farms Level. Agricultural Marketing, 23(3):21-23.

Shalendra and G.N. Singh (2001). Economics of Production, Marketing and Storage of Wheat in District Kanpur (Nagar) U.P. *The Bihar Journal of Agricultural Marketing, 9*(1), 7-20.

Sharma, K.K. and A.K. Ratee (1985). Factor Use Efficiency in Haryana Agriculture. Agricultural Economics Review, 27(3):115-130.

Sindhu, R.S. and Mini, Goyal (2002). Shifts in Area, Production and Productivity of Wheat and Rice in Punjab. Indian Economic Panorama, 12 (3):29-34.

Singh and Chahal (2009). Extent of Adoption of Various Recommended Technologies in Wheat Cultivation. Agricultural Economics Research Review, (22):349-354.

Singh, Bhupinder, A.J. Singh and K.C. Dhawan (1980). A Study in to Price Spreads for Wheat and Paddy in the Punjab State. Agricultural Marketing, 23 (1):7-11.

Soni, S.N., P.C. Mishra and S.M. Kurmawanshi (2000). Economics of Technical Chang of Wheat Production in Sagar District of Madhya Pradesh. Crop Research Hisar, 19(3):452-456.

Thakur, P., L.S. Tomar and R. A. Gaur (1996). Constraints in Adoption of Improved Technology of Wheat Cultivation. Agricultural Science Digest, Karnal. 16(3):213-215.

U.D. Department Of Agriculture. (2021). Leading Wheat producers globally. United State: U.D. Department Of Agriculture.

U.D. Department Of Agriculture. (2015). Afghanistan:2015/2016 Wheat Production Above Avarage but Down from last year. United State: U.D. Department Of Agriculture.

# An Economic Analysis of Wheat Production in Marja District

Dr. Ali Ahmad[1*], Hamidullah Hedayat[2] and Baryalai Rafi[3]
[1]Associate Professor and Chief of Research and Publications, Department of Agricultural Economics and Extension, Agriculture Faculty, Helmand University. Email: aada.aliahmad@gmail.com
[2]Student, Department of Public Administration, Faculty of Economics, Bost University
[3]Teaching Assistant, Department of Horticulture, Agriculture Faculty, Helmand University

## Abstract

This study entitled ‘‘an economic analysis of wheat production in Marja District of Helmand Province’’ was conducted in 2022. The main objective of the research was to determine the cost of wheat production, analyze gross and net income, find out wheat marketing channels and problem of production. For the research, we selected the Marjah district of Helmand province purposively, selected (60) respondents randomly as well as six villages purposively in order to gather relevant information from them. For the method of primary data collection. We have divided their fields into three categories (small: 1-3 Jeribs), (medium: 3-5 Jeribs) and (large: above 5 Jerib) and have chosen (20) respondents for each field. As a result of the research, we found that the production cost of small, medium and large fields were (40721), (77023) and (151280) Afghanis respectively. The total income of the small, medium and large farms has reached (62831), (129348) and (302783) Afghanis respectively. The net income of small, medium and large farms is (22,110), (52,325) and (151,500) Afghanis respectively. We found two marketing channels of Wheat (producer-wholesaler-consumer) and (producer-wholesaler-retailer-consumer). The major problems associated in the Production and marketing of wheat were lack of irrigation water, lack of improved seeds, diseases, pests, lack of regular marketing, lack of proper storage facilities and lack of processing.

**Keywords:** Wheat, Production Cost, Gross Returns, Net Returns and Problem